603 LEGAL AID

# DOVE پروژه

## د کورني تاوتريخوالي او ځورونې پر وړاندې د خونديتوب ممکن کول.

د کورني تاوتريخوالي بیړنۍ پروژه
(Domestic Violence Emergency Project)
د 603 وړیا حقوقي همکارۍ
(603 Legal Aid's Pro Bono Program)
یو پروګرام دی چې د کورني تاوتريخوالي او ځورونې قربانیانو ته مدني بيړني حقوقي خدمتونه وړاندې کوي.



که څوک باور لري چې DOVE پروژې د خدمتونو او امتيازونو د وړاندې کولو په برخه کې د نژاد، رنګ، مليت، مذهب، جنسيت، معلوليت، سن، جنسي تمايل يا جنسي هويت پر بنسټ چلند ورسره شوی، کولی شي مستقيماً 603 حقوقي همکارۍ (603 Legal Aid) ته شکايت وکړي يا د نيوهامشاير ايالت له عدلي څانګې سره خپل شکايت درج کړي.

## د DOVE پروژې ملاتړ

د کورني تاوتريخوالي بيړنۍ پروژه- DOVE – د 603 وړيا حقوقي همکارۍ پروګرام نوښت دی چې مدافع وکيلانو ته داوطلبانه فرصتونه وړاندې کوي چې د هغو کسانو د حقوقي اړتياوو په پوره کولو کې مرسته وکړي چې عايد يې کم دی. DOVE پروژه په ټول نيوهامشاير کې د کورني تاوتريخوالي له خدماتي ادارو سره په همکارۍ کار کوي او د ځانګړو روزل شويو وکيلانو په بخششي خدمتونو تکيه کوي. د EVOD پروژې د بريالي کېدو لپاره تمويل اړين دی؛ دا تمويل او مرستې د ګومارنې، روزنې او د DOVE پروژې د رضاکارانو تر منځ د همغږۍ په ګډون د پروژې له فعاليتونو څخه د ملاتړ زمينه برابروي.

### د کورني تاوتريخوالي پر وړاندې خونديتوب

دا پروژه د 2022VAW20 ګرنټ نمبر لري چې د متحده ايالاتو د عدليې وزارت د عدلي پروګرامونو د ادارې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي دفتر له لوري ورکړل شوی. د دغه سند نظرونه د ليکوال (ليکوالو) دي او د متحده ايالاتو د عدليې وزارت رسمي دريځ نه ښيي. DOVE پروژه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي دفتر (VAWA) سربېره، د نيوهامشاير ايالت د وکيلانو له بنسټ څخه هم ملاتړ ترلاسه کوي.

### د ځورونې پر وړاندې خونديتوب

دا پروژره د 2019-V2-GX-0050 اوارډ نمبر لري چې د عدلي پروګرامونو د ادارې د جرمونو د قربانيانو د دفتر له لوري ورکړل شوی او د نيوهامشاير ايالت د عدليې رياست له لوري اداره کېږي. د دغه سند نظرونه د ليکوال (ليکوالو) دي او د متحده ايالاتو د عدليې وزارت رسمي دريځ نه ښيي. DOVE پروژه د جرمونو د قربانيانو پر دفتر (VOCA) سربېره، د نيوهامشاير ايالت د وکيلانو له بنسټ څخه هم ملاتړ ترلاسه کوي.

603 LEGAL AID
PRO BONO PROGRAM

# 1-866-644-3574

# DOVE پروژه



## د مرستې غوښتنه وکړئ

**اړ نه یئ چې دا کار په یوازې ځان وکړئ.**

زموږ د حقوقپوهانو او د ناورین د مدافعینو ټیم به له تاسو سره د پراخو ګواښونو په برخه کې مرسته وکړي او په محکمه کې ستاسو پیاوړې غږ پورته کړي.

د ناورین له یوه مرکز( د نیوهامشایر د کورني تاوتریخوالي، جنسي تیري او ځورني په برخه کې د مرستې اداره) سره په اړیکه کې شئ، هلته به یو راز ساتونکی مدافع له تاسو سره همکاری وکړي چې د DOVE پروژې د همکارۍ غوښتنه وکړئ.

که په انګلیسي سمي خبرې نه شئ کولی، DOVE پروژه وړیا شفاهي ژباړن درته وړاندې کوي.

**د مرستې لپاره له**

**1-866-644-3574**

**شمېرې سره اړیکه ونیسئ**

**( دا شمېره د ورځې**

**24 ساعته او د اونۍ**

**7 ورځې د لاسرسي وړ ده).**

**که له کورني تاوتریخوالي یا ځورونې څخه خوندیتوب ته اړتیا لرئ، DOVE پروژه مرسته درسره کولی شي.**

DOVE د 603 وړیا حقوقي همکارۍ یوه ځانګړې پروژه ده چې هغو کسانو ته د محلي او شخصي وکیلانو د بخششي خدمتونو له لارې خدمتونه وړاندې کوي، چې عاید یې کم دی.

### د کورني تاوتریخوالي پر وړاندې خوندیتوب

DOVE پروژه د RSA 173 له مخې په مدني محکمه کې د کورني تاوتریخوالي پر وړاندې د خوندیتوب فرمان په وروستۍ استماعیه کې د وړیا حقوقي استازولۍ خدمتونه وړاندې کوي. د کورني تاوتریخوالي پر وړاندې د خوندیتوب یا مخنیوي فرمان په دې موخه جوړ شوی چې له تاسو څخه د کورنۍ، د کورنۍ غړي یا اوسني/پخواني د ژوند ملګري له لوري د ریښتیني فزیکي تاوتریخوالي یا د فزیکي تاوتریخوالي د ګواښ پر وړاندې ساتنه وکړي.

### د ځورونې پر وړاندې خوندیتوب

DOVE پروژه د نیوهامشایر ایالت د RSA 633:3-a له مخې په مدني محکمه کې د ځورونې پر وړاندې د خوندیتوب فرمان په وروستۍ استماعیه کې د وړیا حقوقي استازولۍ خدمتونه وړاندې کوي. د ځورونې پر وړاندې د خوندیتوب یا مخنیوي فرمان په دې موخه جوړ شوی چې له تاسو څخه د ځوروونکي چلند پر وړاندې ساتنه وکړي – دوې یا تر دې زیاتې داسې کړنې چې د یوه کس پر وړاندې د وېرې رامنځته کولو په موخه وشي.